دولت انتقالی اسلامی افغانستان
دارالانشاء کمیسیون قانون اساسی

Transitional Islamic State of Afghanistan
Constitutional Commission Secretariat

ښاغلیو او درنو هېوادوالو!

زمونږ هېواد او ولس د پنځه ویشت کلنو کډوالیو او دربدریو، د عدالت او قانونمندۍ له نشتوالي او د هر ډول ستونزو او کړاوونو له ګاللو وروسته د یوې نوې ټولنې د جوړولو زېرې اوربدلی دی. اوسني شرایط د یوې داسې ټولنې د جوړېدو غوښتنه کوي، چې په ډیموکراسۍ ولاړه، د ملي او نړیوالو غوښتنو سره برابره، او د هېوادوالو د هیلو او غوښتنو تمثیلوونکې وي. د داسې یوې مهمې ټولنې د جوړولو هیله له هغو پرېکړو څخه ده، چې د ملي، سیمه ییزو او نړیوالو بدلونونو له مخې د ۲۰۰۱ کال د دسمبر په پنځمه په بن کې د جوړشوي تاریخي کنفرانس په ترڅ کې منل شوي او د هغې له مخې افغانستان د سیاسي او حقوقي مېکانیزمونو درلودونکی شو.

د بن پرېکړه لیک د افغانستان انتقالي حکومت ته په اساسي قانون د ولاړې یوې ټولنې د جوړلو مسوولیت ور تر غاړې کړ، چې د یوه اساسي قانون په جوړولو سره دا ماصول تر سره کړي. د افغانستان انتقالي اسلامي حکومت رئیس ښاغلي حامد کرزي د ۱۳۸۱کال د تلې د ۱۳مې نېټې د (۱۴۱) مې ګڼې فرمان په صادرولو سره د دې اساسي قانون د تسوید رسالت د حقوقپوهانو او پوهانو ګډ نهه کسیز کمېسیون ته وسپارە. د تسوید کمېسیون د ملت د بابا محمد ظاهر په وسیله افتتاح اود ۱۳۸۱د لړم په (۱۲) مه نېټه یې په کار پیل وکړ. دې کمېسیون د هېواد له پخوانیو اساسي قوانینو او د نړۍ د هېوادونو له اساسي قوانینو څخه په ګټې اخیستنې سره عمدتاً د افغانستان د دیني، ټولنیزو، سیاسي، فرهنګي او اقتصادي غوښتنو له مخې لومړنی مسوده تدوین کړه. ور پسې د دارالانشاء د جوړېدو لپاره د دولت د رئیس د ۱۳۸۱ کال د لړم د ۶مې نېټې ۳۷۲۲ ګڼه فرمان صادر او د هغه په وسیله په حقوقو او دیني علومو کې د هېواد له نومورو کسانو څخه د (۳۵) غړیو په ګډون د اساسي قانون د تدقیق کمېسیون جوړ شو. د تدقیق کمېسیون د(۱۱) میاشتو په اوږدو کې د دې تاریخي رسالت د تر سره کولو لپاره ربښتیني هڅې او هلې ځلې وکړې.

د اساسي قانون د مسودې د لازیات غني توب او د یو ملي سند په کار کې د ولس د ګډون لپاره د دې وړاندیز وشو چې د ۱۳۸۲ د غویی په ۶مه نېټه د لومړي ځل لپاره د هېواد په تاریخ کې په ټول افغانستان او په پاکستان او ایران کې د افغاني مهاجرینو په کمپونو کې د عامه خبرونې پروګرام پیل شي. د کمېسیون غړیو د نظر غوښتنې د تقریباً (۵۵۵) غونډو په ترڅ کې چې (۳۵۵۰۳) ښځو هم پکې ګډون درلود، له هېوادوالو سره د اساسي قانون او د ملي ژوندانه په تنظیم کې د هغه د رول په اړه مشوري وکړې. د دې تر څنګ (۴۸۴۴۵۰) پوښتنلیکونه ووېشل شول. له دې سره هممهاله د کمېسیون اداري ته پیغامونه، لیکونه او وړاندیزونه هم راورسېدل. د دې کتنو نتایج، چې د ولس د نظریاتو او غوښتنو منعکسوونکي دي، په ډېره امانت داري او صداقت سره تر هغه بریده چې د ملي ګټو تضمین بې کاوه، په ګوته او په اساسي قانون کې منعکس شوي دي. د دواړو کمېسیونونو هڅې داوي، چې دا قانون د اسلام د سپېڅلي دین په رڼا کې د ملي کړو او دودونو پر بنسټ او د عیني واقعیتونو په پام کې نیولو سره چې د نوي ټولنیز ژوندانه په تنظیم او د سیاسي ژوندانه په بنسټ ایښودلو کې ګټور وي او ډیموکراسۍ، نېمګړتیا او ملي یووالي ته لار پرانیځي.

د اساسي قانون مسوده تر بشپړېدو وروسته د مطالعې لپاره د دولت ښاغلي رئیس ته وسپارل شوه او د هغه ښاغلي تر کتنې وروسته دادی خپره شوه او ستاسو د آزاد او افاقي قضاوت په وړاندې ده. ستاسو نظریات او وړاندیزونه به د دې ملي سند په بشپړېدو کې ډېر رغنده او رسالتمندانه وي.

د اساسي قانون تصویب به د ولس (۴۵۰) منتخبو استازیو او د (۵۰) انتصابي استازیو له خوا د اساسي قانون د تصویب په هغه لویه جرګه کې وشي چې د ۲۰۰۳ کال د دسمبر په میاشت کې به را وغوښتل شي. د هېواد د روښانه

راتلونکې په هیله

House #213 &188, Lane #5, Street #10, Wazir Akbar Khan, Kabul, Afghanistan
Tel: (+93 20) 210 2648 Fax: (+93 20) 210 2647 P.O. Box #375, Kabul, Afghanistan
Email: info@constitution-afg.com, ccsecretariat@yahoo.com